مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲/۱۱/۱۹

# خلک پايلې ته ګوري

هېڅ سياسي مبارزه په ګواښ، زور، غوسه، زاريو، تبليغاتو، قسمونو، ځان مظلوم ښوولو، ټينګار، لاپو او وار وار يادولو پر خلکو تپلای او منلای نه شي.


ډاکتر عبدالوکيل

خلک پايلې ته ګوري.

خلک دې ته ګوري، چې تېرو سياسي لوڅو- پوڅو د دوی د انساني ژوند پر شرايطو مثبت اغېز کړی که منفي؟

خلک پايله ګوري، چې د چا هڅو سوله، ډوډۍ، کار، پوهه او ويښتيا وربښلې؟

”دا نن خلک په څه حالت کې دي؟“ د تېرو لاپو شاپو ځواب همدا پوښتنه ده.
هسې مه ځانونه او مه هم خلک ستومانوئ.

په دې حساب تر زرګونو جګړه خوښو جګړه مارو يو اروانباد دکتورعبدالوکيل غوره دی.

هره وطني منه چې خورئ، د همدغه شريف افغان د زيار او هڅو پايله ده .

تاريخ نيتونو ته نه، حتی قربانيو ته نه، بلکې پايلو ته ګوري!


د افغانستان خلکو ته د ډاکتر عبدالوکيل ډالۍ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ